درویش وردک

۱۴ جنوری ۲۰۱۶

## پنځم مجلس(دخدای په دوستی کی)

بزرګوارشیخ عبدالقادرګیلانی قدس سره د ۵۴۵ هجری قمری کال دشوال دمیاشتی په دوولسمه دسی شنبی په ماښام په مدرسه کی داسی وفرمایل:

(ای غلامه) چیری ده دخدای عزّ وجلّ بنده ګی؟ په رینتینوالی بنده ګی وکړه ترڅوپه ټولو کارونو کی درته کفایت اوبری په برخه شی. ته دخاوند څخه دفراری بنده په څیریې، دده خواته راوګرزه اوداوامرو په ترسره کولو کی یی تواضع اوسرټیټی وښیه. اوله هغه څه نه چی منع کړی یی په پوره رضایت یی امرته غاړه کښیږده. هرکله کی دی ادا دستورات ومنل نوهغه وخت ستا بنده ګی وستا خاوند ته په زباد رسی اودحال کفایت ته به ورسیږی.( اَلَيْسَ اللهُ بِكافٍ عَبْدَهُ)-« آیا خدای دخپلو بنده ګانولپاره بس ندی؟»

کله چی ستا بنده ګی دصدق اورینتینوالی مرحلی ته ورسیده نو هغه مقام ته به ورسیږی چی پرخدای به ګران وی اوخپل محبت به دی په زړه کی ځواکمن کړی. پرته له زیاراورنځه به دقرب مرحلی ته ورسیږی نوربه دغیرله صحبته بیزاره اوپه ټول احوال کی به دخدای په یاد مشغول یاستی.

که چیری څمکه له ټولی پراخیتا سره دربانډی تنګه شی، اودهیلو ټولی دروازی دی پرمخ وتړل شی، باک به ونلری، اوپرته له خدایه به دهیڅا دروازی ته ونه دریږی. اودغیرڅخه به یی ونه خوری، پرته له هغه څه نه چی دخدای له خوادرته مقرر شوی دی. دموسی علیه السّلام څخه پیروی وکړه چی متعال خدای یی په هکله داسی فرمایلی:( وَحَرَّمْنا عَلَيْهِ الْمَراضِعِ مِنْ قَبْلُ)-« مخکی له مخی مو د دائیانو شیدی پری حرامی کړی. سوره قصص آیه ۱۲».

متعال ځښتن په هرڅه شاهد اوناظردی اودهرڅه ساتونکی اوحافظ دی. له ده څخه بی نیازی ممکنه نده. پس له معرفت نه دانکارځای نشته. وای پرتا! خدای دوپیژانده اوتری ګرزی اوانکارکوی. له خدایه مخ مه اړوه څرنګه چی خدای قادردی چی دخیراوبرکت ټولی دروازی دی پرمخ وتړی. دخدای دغوښتنو پروړاندی صابراوشکیبا اوسه. آیا نه پوهیږی چی هرڅا چی صبروکړنودروند اوارجمند شو. ددی پرخلاف کوم عقل په بی صبری اوناشکیبایی امراوفتوی ورکولای شی؟ بزرګوارخدای فرمایی:( يَا اَيُّهَاالَّذِيْنَ آمَنُواصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرابِطُوا وَتَّقُو اللهَ لَعَلَكُم تُفْلِحُونَ)-« ای خلکوچی ایمان مو راوړی بردباره اوسی اوله یوبله شکیبایی ولری اوله خدایه وبیریږی شاید وژغورل شی. سوره آل عمران آیه ۲۰۰».

په قرآن مجید کی ډیرآیتونه شته چی ټول یی پردی دلالت کوی چی په صبرکی فراوانه خیرموجوددی، اوډیرنعمتونه پرصبرمترتب دی اونیکی پایلی اوحسن عاقبت درلودونکی دی. پرتاسولازمه ده چی صابره واوسی ترڅود ددنیا اوآخرت دخیرشاهدان اوسی. پرتاسو دقبرونو(هدیرو) زیارت ددی لپاره چی تنبیه شی اودنیکو خلکو لیدنه لازمه دهی. دنیکانو له ناستی ګټه پورته کړی اودخیرله کارونو کوتاهی مه کوی. ترڅومو ټولی چاری سمبال شی. دهغو کسانو له ډلی مه اوسی چی کله ورته پند ورکول کیږی نه یی منی، اوکله چی نیکه وینا واوری نو په غوږکی یی نه نیسی اوعمل نه پری کوی. دین مو په څلورو عواملو له منځه تللای شی:

اول په هغه څه عمل نه کول چی زده کړی مودی، دوهم ،په هغه څه عمل کول چی نه مودی زده کړی اوتری خبرنه یاست. دریم هغه څه چی نه پری پوهیږی اونه یی زده کوی اوهمداسی جاهل پاته کیږی. څلوم دهغه څه نه موچی زده دی ، نورو ته یی نه زده کوی.

(ای قومه) که چیری دخوښیو په مجالسو کی حضورپیداکوی نو دخدای دیاد خوښی پکی ولټوی، نه دظاهری غړو دخپګان دلیری کولولپاره، تاسو دناصحانو له پند نه محروم یاستی اودوی په خطا منسوب کوی اووېناوی یی په ټوکو اومسخره ګری اړوی. پوه شی چی پدی کارسره ځانونه دخدای پروړاندی له خطرسره مخ کوی. له دی ناوړه دود څخه توبه وکاږی. ځانونه دخدای ددښمنانوپه ځیرمه کوی. هغه څه چی دپند اونصیحت اوری په هغی عمل وکړی اوګټه تری پورته کړی.

(یاغلامه) تاځان دظاهری اسبابو په پیژندنه اودعاداتو په رعایت ملزم کړی په داسی حال کی چی خدای تا پخپلو قسمتونو ملزم کوی. نه داسی چی سبب ته وګوری اوریښتینی مسبب باندی توکل کول هیرکړی. پس لازمه ده چی پرخپلو کړو له سره کتنه وکړی اوله ځانه اخلاص په پوره توګه وښئی. متعال خدای فرمایی: (وَما خَلَقْتَ الْجَنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُونِ)-« مونږجن اوانس له بنده ګی پرته بل څه ته ندی پیداکړی، سوره الذاریات آیه ۱۳».

تاسو یی بیهوده نه یی پیداکړی، دبازی اودخلکو دلعب اولهو لپاره نه یی پیداکړی، تاسو یی دخوړلو، ویده کیدلو اوتولید مثل لپاره نه یی پیداکړی. ای غلامه له دغفلته راویښ شه. یوګام په خلوص نیت سره دخدای پرلورواخله، ترڅوخدای هم ستاسو خواته ګامونه واخلی، خدای ددوستانو لیدوته تردوی ډیر لیواله دی. لوی خدای فرمایی: (يَرْزُقُ مَن يَشاءُ بِغيْرِ حِسابٍ)-«هرچاته چی وغواړی نوفراوا نه روزی ورکوی.سوره بقره آیه. ۲۱۲».

هرکله چی بنده دیوه کاردترسره کولو اراده وکړی، خدای یی وسایل ورته آماده کوی. البته داهغه کاردی چی معنوی عالم پوری تړلی نه په ظاهر. یعنی دنیت دترلاسه کولو لپاره باطنی نیت پکاردی نه په ظاهره غوښتنه. هرکله چی بنده پدی کارسره دکمال حد ته ورسید، په دنیا اوآخرت کی یی زهد پوره کیږی، معنوی توان اوباطنی ځواک ورته پیداکیږی. ذره به یی غر، قطره به یی دریاب، ستوری به یی میاشت، میاشت به یی لمر، لږبه یی ډیر، نابودی به یی بود، فنا به یی بقا اوبدلون به یی په ثبات واوړی.دمعنی ونه به یی لویه شی داسی چی ریښی یی په ځمکه اوښاخونه به یی عرش ته ورسیږی، اوپردنیا اوآخرت به سیوری وغوړوی.

په دی حال کی نه دنیا کولای شی دی په خپلو بندو کړی اونه هم آخرت دی مقید کولای شی. هیڅ مال اوغوښتنه دی پخپل قید کی نشی نیولای. هیڅ پرده دی نشی محجوب کولای. څوک پری نشی لاس بری کیدای. هیڅ تیاره دی نشی مکدرکولای. هرکله چی داټول ترسره شول بنده به دحق دمقام ښایستګی ترلاسه کړی. اودپروردګار دقدرت په لاسونو به دمادیاتو له دریابه راوایستل شی.

هرکله که خدای دعنایت په سترګوبنده ته وګوری، پخپله دده رهنما طبیب اومودب ګرزی. اودهدایت لمریی مخی ته رڼا کیږی. اودټولو معنوی عواملو په ساتنه دوی دخلکو دهدایت اولاربنوود لپاره استوی. هغه چا چی دنیا ایله کړی اودهغی

له مزاياو يی لری والی کړی، دآخرت بهرو ته رسيږی اوهغوی چی ددنيا اوآخرت څخه يوازی لقاء الله غواړی نو دقرب مقام ته به ورسيږی.

تاسو داسی دغفلت په خوب کی ياست لکه چی مړه وی ، اوپه دی آند ياست چی دقيامت په ورځ به بيا نه راژوندی کيږی. اودحق مخ ته به داعمالو دمحاسبی لپاره نه درېږی. اوله پل صراط څخه به نه تيريږی. داستاسو صفات دی او پدی حال داسلام دعوی هم کوی. يوه شی چی داقرآن اداعلم که عمل پری ونکړای نوستاسو پرضد شاهدان دی. هرکله که دعلما مجالسو کی حاضرشوی اودهغی مواعظ مووااوريدل اوعمل مو پری ونکړ، داحضورخپله گناه ده. داسی گناه لکه چی درسول اکرم(صلی الله عليه وسلم) حضورباندی مشرف شی خبری اواوامر يی واوری ولی عمل پری ونکړی.

دقيامت په فکر کی اوسی، څکه هغه ورځ به ټول خلک دخدای جلال اوعظمت اوعدل ويری نيولی وی. ددنيا واکداری هم ختميږی اوټول له شاه ترگدا دخدای حضورته حاضرکيږی. اوپه هغه ورځ به دمتقيانو اومومنانو څواک څرگنديږی. دحق الطاف اوعنايات به پرڅمکه فرمانبرداره بندگان اواوتاد په غيرکی نيسی. هغه اوتاد چی دڅمکی ټيکاو ددوی پوسيله دی او هم دوی دخلکو اميران اوفرمانروايان دی اودخدای معنوی اوغيبی خليفه گان. نن دمعنی له لوری اودقيامت په ورځ په ظاهری بڼه.

دمردانو زړورتيا دکفاروسره په ميدان کی څرگنديږی، ولی دصالحينو زړورتيا دنفس اونفسانی شهواتوسره په جگړه اوله بدوملگرو څخه په ليريوالی کی په ثبوت رسيږی. اودخواصو زړورتيا ددنيا اوآخرت په پريښوو اوغيرله لقاء الله نه بل څه نه غوښتلو کی ثابتيږی.

(ای غلامه) وينې شه مخکی له دی چی په زوره وينې کړای شی. داهل دين سره ناسته اومعاشرت کوه څکه دوی دناستی اومعاشرت وړدی، څکه ترټولو هوښيارکسان هغه دی چی دخدای عزّ وجلّ بنده گی ته يی غاړه ايښی. اونادان ترين کسان هغه دی چی دخدای له امرغاړه غړوی. عظيم الشّان پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) فرمايی: (تَرِبَتْ يَداکَ)-« ستالاسونه تادذلت له خاوروسره سم کوی اودرويشی ته دی کاږی.).

که څواکمنی غواړی نو خاکساری اوفروتنی وکړه، هرکله چی داهل تقوی سره همناستی شوی نولاسونه به دی څواکمن اوزړه به دی له نفاقه اوريا په تيښته وی.رياکاره منافق چی اعمال يی نه قبليږی، هغه عمل به قبليږی چی يوازی دخدای درضا لپاره وی، داعمالو ظاهر ته پاملرنه نه کيږی. هغه څه ته چی کتل کيږی دباطن اعمال دی، هرکله که دی په اعمالو اوکړو کی دنفسانی هوا سره مبارزه وکړه ،نو هغه عمل دقبول مرحلی ته رسيږی. خپل اعمال اورفتار دخلوص اوصداقت په زيول آراسته کړه، څکه هرومرو به دخدای په وړاندی قبليږی چی دريا اورنگ څخه ليری اودحق درضا لپاره وی، نه دمخلوق دخوښی لپاره.

حيرانی ده! دنورو دخوښی لپاره عمل کوی اوهيله لری چی دحق په درگاه به قبول شی؟؟ داپرته له هوا اوهوس څخه بل څه ندی، غرور اوځان غوښتنه ليری کړه، په زړه کی ددين غم وساته، څکه ته دانده په دار اوددنيا په جيل کی پروت يی. زمونږ گران پيغمبر به تل په فکر کی و، درونی خپگان ترظاهری خوښيو ډيرو، له موسکا پرته به يی خنداپه شونډو نه راتله، څکه چی پاک زړه يی خپه او ددين په کارکی بوخت و. که دمسلمينو چاروته رسی اودرسالت تبليغ نه وای، نو هيڅکله به له کوره هم نه و وتلای اوله هيچاسره به يی ناسته نه کولای.

حيرانی ده! خپل زړه ددنيا په لاره کی تباه کړی، پداسی حال چی متعال خدای ستابرخه په دنيا کی ځانگړی کړی اومقرره ده. دهری ورځی لپاره تازه رزق حواله دی، که يی وغواړی اويانه.

ستا حرض ددنیا دمال په ټولولو کی تادخدای تبارک وتعالی پروړاندی رسواکوی اودخلکو پروړاندی بی قدره. دمقسومی روزی په لاس ته راوړو کی حرص دایمان نقض دی، اوقناعت دایمان دډیریدو سبب گرزی. اوهغی ته ارزښت نه ورکول اودلږاوډیروپه فکرکی نه کیدل، دایمان کمال بلل کیږی.

(ای غلامه) له نادانانو سره ناسته ولاړه مه کوه، چی ددوی جهالت اونادانی به تاسوته هم سرایت وکړی. دنادانو سره ناسته دغبن اوفریب خوړلو سبب گرزی. دمومنینو سره اوهغوپوهانوسره چی په خپله پوهه عمل کوی ، کښینه.

څومره ښکلی دی دمومنینو حال په ټولو وختوکی، اوڅومره څواکمن دی دنفس اودزړه دهوا سره په مبارزه کی، ددی اصل پربنسټ گران پیغمبر( صلی الله علیه وسلم) داسی فرمایی: (لَا رَاحَةَ لِمُؤ مِنٍ غَيْرُ لِقَاءِ رَبِّهِ عَزَّوَجَلّ)-« مومن دحق ددیدارنه پرته په بل هیڅ شی نه خوشحاله کیږی».

مومن دزړه درونی خپگان دخیری په ظاهری خوښی پوښی، په ظاهرمتحرک اودکسب اوعمل په لاره، اوپه باطن کی ساکن اوحق ته تسلیم. ظاهریی داهل اوعیال په فکراوباطن یی له خدای عزّوجلّ سره متصل دی. هیڅوخت خپل رازدښځی اولادو اوهیچاسره نه شریکوی. پدی هکله درسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) قول ته غورشی چی فرمایی: ()-« دپردی اچولو پواسطه خپل رازونه وساتی». که چیری یی له خولی کومه خبره په ناغلطی کی راووزی نوددی په لټه کی وی چی څرنگه پرده پری واچوی اوپټه یی کړی.

(یاغلام) مادځان هنداره وگرزوه، دزړه اوباطن هنداره، داعمالو هنداره، ماته رانږدی شه اوهغه څه به وگوری چی په لیری والی کی دی نه وی کتلی. که په ځان کی ددین دپیژندنی احساس کوی نو لازمه ده ماته رانیږدی شی، ځکه زه ددین په کارکی دین ترارزښتونو لوړ څه نه وینم، اوپه بی باکی اودواقعیتونو په ویلو سره تا دخدای لورته راهنمایی کوم. ځکه زما پالنه په همدی ډول ده چی له ریا اونفاقه بیزاره اوحقایق په خوله وایم.

دنیادوستی دپه کورکی کښیږده،اوزما خواته راشه، زه دآخرت کورپیژنم اوپری بینایم، دماسره کښینه اوخبروته می غوږشه، اومخکی لدی چی مرگ درته ورسیږی ،په هغو عمل وکړه. دژوندانه راتلونکی له خدایه په ویره اوډارکی پرته ده. هرکله که دی له خدایه خوف نه درلود په دنیا اوآخرت کی به هوساینه ونه گوری. له خدایه ویره دزړه له بشپړی پوهی څخه وی.

پرهمدی بنسټ عزّوجلّ خدای فرمایی: (اِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبادِهِ اَلْعُلَمَآءُ)-« یوازی عامل علما، چی علم یی زده کړی اوعمل پری کوی له خدایه ویره لری).

دنیا دځانگړو ډلوده اوآخرت دنورو ځانگړو ډلو، تبارک وتعالی دهغی ډلی ځانگړی دی چی عبارت دی له: مومنینو، عارفانو، دوستانو، پرهیزگارانو، له خدایه ویریدونکو، غمجنانو، دخدای په رضا مات زړو. چی دخدای ویره په زړونو کی لری اوپه ظاهره له سترگو پټ دی، دخدای ذات همیشه دخپلو باطنی سترگوپروړاندی گوری، څرنگه به له ده ونه ویریږی؟ چی هغه هره ورځ دیوه امرپرترسره کولو بوخت دی، بدلوی یی اواړه وی یی، یوه ته عزت ورکوی اوبل خواروی. یومړکوی اوبل ژوندی کوی. یو منی اوبل ردوی. یونژدی کوی اوبل لیری کوی. «لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُم يُسْأَلُونَ»-( ازآنچه انجام می دهد پرسیده نمی شود وبندگانند که مورد سوال قرار می گیرند. سوره انبیاء آیه ۲۱).«له هغه څه نه چی ترسره کوی یی نه پوښتل کیږی اوبندگان ترپوښتنی لاندی راځی. سوره انبیاء آیه ۲۱).

ای خدایه مونږځانته درنیږدی کړه اوله خپلی درگاه مو مه لیری کوه.آمین

«وَآتِنَا فِي الدُّنْيا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذابَ النَّارِ».